PASHTO

# د BCG واکسین وروسته د مور او پلار لپاره مشورې

# د BCG واکسین = د نري رنځ پروړاندې واکسین

ستاسو ماشوم ته همدا اوس د BCG واکسین **په ځرمن کې** وهل شوې دی، مهرباني وکړئ د دې واکسین سره تړلې بیلا بیل **نورمال پایلې** لاندې وګورئ.

**عمومي معلومات :**

د دې واکسین وهلو وروسته **تبه نه راولي** او هیڅ ډول درملنې ته اړتیا نلري. او که چیرې تبه راشي نو د ډاکټر سره مشوره وکړئ.

په ټول ژوند کې د دې واکسین یوازې یو خوراک کافي دی.

**د دې واکسین اغیز به له 2 تر 3 اونیو کې پیل شي او په 2-3 میاشتو کې به وده وکړي**، د دې واکسین وروسته د غبرګون اوسط وخت.

**په وهل شوي ځای د انجیکشن احتمالی اغیزی :**

– په وهل شوي ځای د انجکشن عکس العمل نشتوالې ؛ په دغه صورت کې هیڅ نه کول.

– **په دوه یا دریو اونیو کې**، لږ سوروالې ممکن ده چې راشي (کوچنې سور داغ، لکه چې یو ماشي ټک ورکړې وي). په داسې صورت کې 2 خبرې کیدې شي :

✓ ممکن ده چې دغه سور داغ فقط **داغ** پاتې شي : پداسې صورت کې هیڅ نه کول

✓ ممکن ده چې دغه سور داغ وپرسیږي، کوم چې د یو دانه یا زخم په څیر ښکاري، **مګر دا زخم یا دانه نده**، دا خبره مهمه ده چې دغه زخم یا دانه ته **لاس ورنکړئ او انتظار وکړئ چې مایع پخپله راوځي**. ممکن ده چې دغه سور داغ وبهیږي او په ځینو حالتونو کې د 3 څخه تر 8 اونیو پورې **یو کوچنی ژیړ او نه پاکیدونکي** رطوبت تولید کړي. پداسې حالت کې، سپارښتنه کیږي چې په **صابون او اوبو سره یې پاک کړئ**، لږترلږه په ورځ کې یو ځل، تر څو چې داغ روغ شوی نه وي.

**دا ټول عکس العمل معمول دي او تاسو باید اندیښمن نشئ. دا په خپله رغیږي او یو کوچنی ګلابي خال پریږدي کوم چې به د واکسین داغ ته لاره ورکړي.**

**د اوږدې مودې پورې د بهیدو په صورت کې ځینې لارښوونې**

– د ناروغی ضد او شفاهي پاؤډر یا مرطوبونو سره درملنه مه کوئ
– له میکروب پاکه وچه او کوچنی پټی پرې ولګوئ ترڅو د جامو سره د لګیدو مخه ونیسي. د داسې پلستري پانسمان یا پټی څخه ډډه وکړئ کوم چې ځایي حساسیت رامینځته کوي
– په دوبي یا اوړي کې، خپل لاس لمر ته ښکاره کړئ
– د اوږ وخت لپاره لامبلو په حالت کې، داسې بنداژ یا پانسمان ولګوئ کوم چې د اوبو په وړاندې مقاومت لري
– د تنګو جامو اغوستلو څخه ډډه وکړئ ترڅو جامې د زخم سره و نه لګي.

د دې واکسین د پایلو په اړه د کوم وضاحت لپاره، تاسو ما ته په دغه لاندې ادرس رسیدلی شئ

Dr Geneviève GRAVIL-BAILLON
کوارډینیټر ډاکټر

**CLAT 74 SUD**
**Tel : 04 50 63 64 89**
**Fax : 04 50 63 64 90**
**Mail : clat74sud@ch-annecygenevois.fr**

**Centre Hospitalier Annecy Genevois**
**1 avenue de l'hôpital**
**74370 Epagny Metz-Tessy**
**www.ch-annecygenevois.fr**